## وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

## د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

### د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**21حمل_سال 1403**



# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

# فهرست مطالب

عنوان صفحه

مسلکي معین او د وزارت کفیل د ایران د سفارت مرستیال او سرپرست سره ولیدل ----------------------------------1
توزیع پول نقد به افغانهای اخراج شده ازپاکستان درجوزجان، به دستوررهبر امارت اسلامی افغانستان ---------------1
انګلیس کانال کي جوړ شوي سمندري خندونه برېتانیا ته د کډوالو د اوښتو مخه نیولی شي؟ --------------------------3
انتقال پناهجویان به سایر کشورهای اتحادیه اروپا معمولا با شکست مواجه می شود---------------------------------4
د آلمان حکومت د کم عمری ودونو ته قانوني مسوده وړاندې کړه--------------------------------------------------6
آلمان: مهاجرو له پاره د تادیې نوی کارت څنګه کار کوي؟--------------------------------------------------------6

خبرنامه

# متن کامل اخبار

## مسلکي معین او د وزارت کفیل د ایران د سفارت مرستیال او سرپرست سره ولیدل

د وزارت ویب سایت



مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت مسلکي معین او د وزارت کفیل مولوي عبدالرحمن راشد په کابل کې د ایران د سفارت مرستیال او سرپرست ښاغلي نجاري سره په خپل کاري دفتر کې وکتل.
په دې کتنه کې د دواړو لورو ترمنځ په یاد هېواد کې د افغان مهاجرینو حجیانو د تګ او راتګ د اسانتیا په باب خبرې وشوې، چې سږ کال د حج د فریضې د ادا کولو لپاره ځي.
ښاغلي راشد تېر کال د افغان حجیانو په برخه کې د ایران دولت د لازمې همکارۍ ستاینه وکړه او په روان کال کې یې په دې برخه کې د هر اړخیزې همکارۍ غوښتنه وکړه.
همدا راز  د وزارت مسلکي معین له ایران څخه د افغان کډوالو د کتلوي اخراج د مخنیوي په باب او په یاد هیواد کې د افغان مهاجرینو د نورو ستونزو د هوارې غوښتنه وکړه.
د ایران د سفارت مرستیال او سرپرست د وزارت مرستیال او کفیل ته په روان کال کې د افغان حاجیانو د اسانتیاوو په برابرولو کې د همکارۍ ډاډ ورکړ.

## توزیع پول نقد به افغانهای اخراج شده ازپاکستان درجوزجان، به دستوررهبر  امارت اسلامی افغانستان

آژانس اطلاعاتی باختر

**مطابق به هدایت عالیقدر امیرالمومنین حفظه الله، برای یک صدوچهل خانواده مهاجرین اخراج شده اجباری ازپاکستان، از سوی مستوفیت جوزجان پول نقد کمک شد.**
**مسئولان در اداره مستوفیت جوزجان میگویند که این مساعدت مطابق به هدایت عالیقدر امیرالمومنین حفظه الله، از سوی وزارت مالیه برای آنعده از خانواده هایی که از کشور های همسایه جبرآ اخراج شده اند، توزیع شد.**
**مولوی محمد دین حقنواز مستوفی جوزجان به آژانس باخترگفت که از این مساعدت ها سهم هر عضو خانواده مبلغ دوهزار افغانی میشود که نظر به تعداد اعضای خانواده این پول توزیع شده است و این پول از سوی وزارت مالیه با تاسی از هدایت عالیقدر امیرالمومنین حفظه الله برای اعضای 140 خانواده مهاجر تامین شده است.**
**قاری گل حیدر شفق والی جوزجان می گوید که هزارن هموطن ما با مشکلات فراوان اجبارآ از کشور های همسایه اخراج شدند و حتی مال و زندگی تعدادی از هموطنان در آن کشور ها باقی ماند و اکثرآ آنها واقعآ متضرر اند.**
**والی جوزجان افزود: در حالیکه امارت اسلامی همواره تلاش نموده است تا از طریق های مختلف به نیازمندی های مهاجرین اخراج شده اجباری رسیده گی نماید در پهلوی آن زعیم امارت اسلامی به مناسبت فرا رسیدن عید سعید فطر یک مقدار پول نقد را برای این خانواده ها در نظر گرفته است.**
**به گفته وی، زعیم و مسئولین امارت اسلامی همیشه در فکر مشکلات ، نیازمندی ها و رسیده گی به ضروریات هموطنان خود هستند و توزیع این پول نشانه از این مورد است.**
**در همین حال شماری از خانواده های که از این مساعدت مستفید شده اند از لطف و دلسوزی زعیم امارت اسلامی نسبت به وضعیت این خانواده ها ابراز قدردانی و سپاسگذاری نموده می گویند: مشکلات زیادی است ما با آنها روبرو هستیم و نیاز به مساعدت های بشری بیشتر از سوی حکومت و موسسات همکار هستیم.**

## انګلیس کانال کې جوړ شوي سمندري خنډونه بریټانیا ته د کډوالو د اوښتو مخه نیولی شي؟

مهاجرنیوز



څو ورځې مخکې د انګلیس کانال په کانش سېند کې جوړ شوي خنډونه له منځه یووړل شول. دا وروسته له هغه چې څو میاشتې وړاندې فرانسوي چارواکو بریټانیا ته د کډوالو د سفرونو د مخنیوي لپاره د انګلیس کانال په دوو بېلابېلو سېندونو کې متحرکه خنډونه جوړ کړي ول. دوی اوس ادعا کوي چې د خنډونو ویجاړول ښیي چې یادې موانع د کډوالو د مخنیوي لپاره اغېزناکې دي. خو سازمانونه بیا وایي چې یاد خنډونه د کډوالو د سفرونو مخه نه شي نیولی .

د فرانسې د شمالي منتروی ښار د قومندانۍ ایزابل فرادن تیرود په خبره، کانش سېند کې لګول شویو متحرکو موانعو ته د شنبې په شپه، د مارچ په ۳۰مه، «په قصدي توګه» زیان اړول شوی دی. د فرانس ۳ د خبر له مخې، دا خنډونه د یوې غوځونکې الې په وسیله له منځه وړل شوي دي.

دغه خنډونه تېر اوړی د فرانسې په شمال کې د کانش سېند د اوبو پر سر جوړ شوي وو ترڅو د «ټکسي کښتیو» مخه ونیسي: هغه کښتۍ چې پر سواحلو د امنیتي سرتېرو د شتون له امله له کوچنیو سېندونو څخه د انګلیس کانال اوبو ته دننه کېږي.

دا هم ولولئ
<u>فرانسه: په شمال کې د سېندونو له لارې بریټانیا ته د اوښتو هڅې زیاتې شوې</u>

له کانش سېند څخه د سفرونو پای

په ورته مهال چارواکي د دغو خنډونو د ویجاړولو پړه پر قاچاق وړونکو اچوي. د فرانسې پر سواحلو له نامنظمې کډوالۍ سره د مبارزې ادارې مرستیاله ماتیلد پوتل کډوال نیوز سره خبرو کې وایي: «دوی ځکه دغه خنډونه ویجاړ کړل چې له دغه سېند څخه د بریټانیا پر لور سفرونه ترسره کېدل«.



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

**همدارنګه د پا دو کالي قومنداني کډوال نیوز ته وايي: «د قاچاق وړونکو له لوري د [خندونو] د ویجاړولو هڅه ښيي چې دغه موانع د اوښتونکو کډوالو د د مخنیوي لپاره اغېزناکې وې«.**

**یادې قومندانۍ په اګست کې ویلي وو چې د ۲۰۲۳ د جنورۍ تر اګست پورې «کانش سپند کې ۲۲ پېښې ثبت کړې او په هره کښتۍ کې په متوسط ډول ۴۶ کډوال سپاره ول». ماتیلد پوتل وايي چې د دغو خنډونو له جوړېدو راهیسې له دغه سکتور څخه چا برېتانیا ته د اوښتو هڅه نه ده کړې.**

**د فرانسې په شمال کې دوه نور خنډونه هم شته: د روان کال په جنورۍ کې مادلن ته نږدې اوتي سپند کې جوړ شوي خنډونه او همدارنګه دنکرک ته دون کانال کې متحرکې موانع چې په ۲۰۲۱ کې جوړې شوې دي.**

**دغه سمندري خنډونه چې د بې پیلوټه الوتکو تر نظارت لاندې دي چارواکو ته اجازه ورکوي چې خپلې قواوې متمرکزې کړي. ماتیلد پوتل وايي: «[د خنډونو د شتون له برکته] ځینو برخو ته خلک د لاسرسي اجازه نه لري. دا کار کولی شي چې په نورو برخو کې هم د سفرونو مخه ونیسي. هڅه مو دا ده چې په ټولو سکتورونو کې د ځمکنیو او هوايي وسایلو او امکاناتو له کارولو ډډه وکړو«.**

**په ۲۰۲۴ کې برېتانیا ته د اوښتونکو کډوالو شمېر زیات شوی**

**ډېری وختونه قاچاق وړونکي د خنډونو د شتون له امله له کوچنیو کانالونو او سېندونو څخه د برېتانیا پر لور خپل سفر پیلوي. په تېرو څو میاشتو کې د آ په کانال کې څخه ځینې پېښې ثبت شوې دي: د رسمي شمېرو له مخې، یوازې د څو اونیو په جریان کې شاوخوا لس کښتۍ له دغه سېند څخه اوبو ته داخلې شوې دي .کالې کې د یوتوپیا ۵۶ همغږۍ کوونکې فلور ژرمن وايي د هغو کډوالو له خوا چې د آ په کانال کې له ستونزو سره مخ کېږي زیات تماسونه ترلاسه کوي. د نوموړې په وینا، دا یوه نوې پدیده ده.**

**بشري سازمانونه په دې آند دي چې د خنډونو جوړول د ګواښونو احتمال زیاتوي. د روان کال په مارچ میاشت کې یوه ۲۷ کلن سوریایي او یوې ۷ کلنې عراقۍ ماشومې آ کانال کې له هغه وروسته خپل ژوند له لاسه ورکړ چې غوښتل یې په یوه کښتۍ کې ځان برېتانیا ته ورسوي. مرستندویه سازمانونه وايي چې د روان کال له پیل راهیسې انګلیس کانال کې ۱۱ کسان ډوب شوي دي.**

**د فلور ژرمن په وینا: «ربښتیا خبره دا ده چې خنډونه د سفرونو مخه نه شي نیولی«.**

**که څه هم په ۲۰۲۳ کې د انګلیس کانال له لارې برېتانیا ته د اوښتونکو کډوالو شمېر کم شوی و، خو د ۲۰۲۴ له پیل راهیسې یو ځل بیا پر دغه لار برېتانیا ته د ورتلونکو مهاجرو شمېر کې زیاتوالی راغلی دی. د فرانسې خبري اژانس د برېتانوۍ سرچینو له قوله وايي چې د روان کال په لومړیو دربو میاشتو کې ۵۳۷۳ کډوال د سمندر له لارې برېتانیا ته رسېدلي دي، حال دا چې د تېر کال په همدې موده کې ۳۷۹۳ کسان برېتانیا ته په رسېدو بریالي شوي وو.**

**دا هم ولولئ**
**<u>انګلیس کانال: برېتانیا ته د اوښتونکو کډوالو شمېر ریکارډ کچې ته رسېدلی</u>**

## انتقال پناهجویان به سایر کشورهای اتحادیه اروپا معمولا با شکست مواجه می شود

مهاجرنیوز




سال گذشته مقامات آلمانی در اکثر موارد نتوانسته اند پناهجویان را به کشور های اروپایی مسئول روند پناهندگی آنها بازگردانند. براساس اطلاعات حکومت فدرال مقامات آلمانی تنها در ۵۰۵۳ مورد موفق بوده اند.

این امر از پاسخ حکومت فدرال به درخواست جناح پارلمانی احزاب سوسیال مسیحی و دموکرات مسیحی، که روزنامه المانی "بیلد" اولین بار در مورد آن گزارش داده، آشکار گردیده است.

بر این اساس، آلمان در سال ۲۰۲۳ در مجموع ۷۴ هزار و ۶۲۲ درخواست بازپس گیری پناهجویان را طبق «توافقنامه دبلین» ارائه داده است. براساس اطلاعات حکومت فدرال مقامات آلمانی تنها در ۵۰۵۳ مورد موفق بوده اند. اما انتقال به موقع در ۳۸ هزار و ۶۸۲ مورد به دلایل مختلف ناکام شده است. طور مثال به این دلیل که دولت ها حاضر نشدند که پناهجویان را پس گیرند و یا هم حکم محکمه وجود داشته که از انتقال پناهجو به کشور دیگر اروپایی جلوگیری کرده است. در ۲۲۲ مورد، انتقال به دلیل مقاومت فردی که باید اخراج می شد، موفق نبوده است.

براساس توافقنامه دبلین« آن کشوری که پناهجو برای نخستین بار وارد خاک اش شده و یا برای حفاظت در آنجا درخواست پناهندگی داده است، مسئول روند پناهندگی این پناهجو است. بنابراین اخراج فرد پناهجو باید در ظرف شش ماه انجام شود. این مهلت می تواند تنها در موارد استثنایی تمدید شود. بعد از پایان این مهلت آلمان مسئول پیشبرد روند پناهندگی فرد است.

بر اساس گزارش مقامات حکومت آلمان، اکثر انتقالات در سال گذشته براساس مقررات دبلین به اتریش (۱۵۴۷۹مورد) صورت گرفته است. آلمان در جریان تمام سال گذشته تنها ۱۱ مهاجر را از میان ۱۵ هزار و ۴۷۹ درخواست بازپس گیری به ایتالیا انتقال داده است .یک سخنگوی وزارت داخله آلمان روز شنبه (۶ اپریل ۲۰۲۴) گفته است که حکومت فدرال با کمیسیون اتحادیه اروپا و کشورهای عضو برای بهبود اجرای توافقنامه دبلین در تماس است. او گفته است که به دلیل اینکه تطبیق توافقنامه دبلین و سایر الزامات مشترک سیستم پناهندگی اروپا، در سال های اخیر خوب کاری نبودند، این امر می تواند یکی از دلایل برای اصلاحات همه جانبه برنامه ریزی شده باشد.

در مورد نوآوری ها، در میان چیزهای دیگر بررسی درخواست های پناهندگی در مرزهای خارجی اتحادیه اروپا برای افرادی که شانس کمتر قبولی دارند، پارلمان اروپا در این هفته تصمیم گیری می کند.

## د آلمان حکومت د کم عمرۍ ودونو ته قانوني مسوده وړاندې کړه

دویچه وله

د آلمان د عدليې وزارت په بهر کې د تړل شوې نکاح سره په آلمان کې د چلن لپاره قانوني مسوده وړاندې کړه. له دې مخکې د دغه هیواد د اساسي قانون محکمې ورته ضرب الاجل ټاکلی و.

د آلمان په کارلروه ښار کې مستقرې، د دغه هیواد د اساسي قانون محکمې حکومت میعاد ټاکلی دی. له حکومت څخه غوښتل شوي ول چې د روان کال د جون میاشتې تر پای پورې د هغو ودونو په تړاو قوانین جوړ کړي چې د آلمان څخه دباندې په داسي صورت شوي وي چې پکښې د جوړې يو اړخ تر ۱۶ کالو کم عمر لرونکی وي..

د آلمان د عدليې وزارت د اساسي قانون د محکمې د غوښتنې پر اساس اوس د قوانینو یوه مسوده وړاندې کړې ده .په دغه مسوده کې به د هغو ودونو په هکله قانوني چوکاټ او اصول تعین شي چې له آلمان څخه دباندې په کم سن کې شوي وي.

د دغه مسودې له مخې به هغه نکاح لیکونه او نکاحوې په آلمان کې په رسمیت نه پېژندل کیږي چې له دغه هیواد څخه دباندې تړل شوي وي او پکښې د جوړې يو یا دواړه اړخونه د نکاح پر وخت تر ۱۶ کالو کم عمر لرونکي ول. خو د دغې قانوني مسودې له مخې به له دې وروسته هم دا ممکنه وي چې هم کم عمر لرونکی اړخ له هغه بل اړخ څخه په آلمان کې د «نفقې» غوښتنه وکړي. د آلمان د عدليې وزارت د قانون یاده مسوده د جمعې په ورځ (د ۲۰۲۴ کال د اپریل ۶ نېټه) خپره کړه.

د یادې قانوني مسودې له مخې به دا ممکنه وي چې د کم عمرۍ پر اساس د «ناچله» اعلان شوي نکاح یا واده بېرته رسمي کړل شي. د مخکې تړل شوي نکاح غیر رسمي ګڼل به هغه وخت بېرته د رسمي کولو امکان ولري چې د نکاح پر وخت تر ۱۶ کالو کم عمر لرونکی اړخ د ۱۸ کالو عمر ته ورسیږي او دواړه اړخونو د مخکنۍ نکاح د په رسمیت پېژندلو غوښتنه وکړي.

دا چې د آلمان د عدليې وزارت دغه قانوني مسوده وړاندې کوي، غوښتنه يې د ۲۰۲۳ کال په پیل کې د آلمان د اساسي قانون د محکمې لخوا شوې وه. هغه وخت یادې محکمې د ماشومانو د نکاح ضد د هغه وخت قوانین د آلمان د اساسي قانون سره په ټکر کې بللي ول او د نوو قوانینو جوړولو غوښتنه يې کړې وه. د آلمان حکومت د روان کال د جون میاشتې تر پای پورې وخت لري چې یاد قوانین عملي کړي.

هغه وخت د اساسي قانون د محکمې قاضیانو فیصله کړې وه چې د لا نورو اصولو او قوانینو تشه شته چې دولت د کم عمرۍ ودونه ناچله وبولي. په دې ترڅ کې د نفقې په تړاو پوښتنو ته جواب موندل هم مقصد و.

## آلمان: مهاجرو له پاره د تادیې نوی کارت څنګه کار کوي؟

دویچه وله



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*




د آلمان ائتلافي ګوندونو پارلماني فراکسیونونه هم له اونیو بحثونو وروسته، د مهاجرو د تادیې کارت د نوي سیستم پر بوې قانوني مسودې توافق ته ورسېدل. د آلمان فدرالي حکومت او ایالتي حکومتونو تر دې مخکې په دې هکله توافق کړی وو.

په راتلونکې کې به مهاجر د خپلو پیسو یوه برخه د کریدیت یا اعتبار کارت په شکل ترلاسه کوي. د آلمان فدرالي حکومت او ایالتي حکومتونو تر دې مخکې د ۲۰۲۳م کال په نومبر میاشت کې په دې هکله توافق کړی وو او اوس پارلماني فراکسیونونه چې د آلمان په ائتلافي حکومت کې شریک دي هم تر اوونیو بحثونو او مذاکرو وروسته، پرې توافق ته رسیدلي دي.

د درو ائتلافي ګوندونو هر یو سوسیال دموکراټ، زرغون او آزاد دموکراټان چې د آلمان ائتلافي حکومت یې تشکیل کړی، د یوې ګډې اعلامیې په خپرولو سره اعلان وکړ چې په دې هکله به د ایالتي حکومتونو غوښتنې عملي شي.

د تادیې کارت څنګه کار کوي؟

د نوې طرحې پر اساس، په پام کې ده مهاجر به له دغه کارت څخه هغوي پورې اړوند مالي امکانات د نغدو پیسو په توګه نه، بلکې د کریدت په توګه ترلاسه کوي. په دې اساس، مهاجر به د سوداو په رانیولو کې د تادیې له همدغه نوي کارت څخه د عادي کارتونو په څېر استفاده کوي. د تعریف شوي قانوني چوکاټ او د آلمان د ایالتونو د توافق له مخې، له دغو کارتونو څخه به د پیسو لیږد امکان ونلري.

دا چې له دغو کارتونو څخه په یو ټاکلي وخت کې د څومره نغدي پیسو د راوښکلو اجازه شته، د ځایي او ایالتي ادارو تصمیم پورې تړاو لري. د ځینو ضروري مواردو له پاره د یو مقدار نغدو پیسو د تضمین خبره شوې ده.

د زرغون ګوند د پارلماني ډلې مرستیال په دې هکله وویل: «باید ډاډ ترلاسه شي چې په سیمه کې د تادیې کارټ په معرفي کولو سره، د زده کونکو له پاره روزنیزو ځایونو ته د تلو له پاره د بسونو د ټکټ پیسې، د برق یا انټرنیټ مصرف، د دې ټولو له پاره د یوه اندازه جیب خرڅ تضمین شي«.

**دغه کارتونه څه سهولتونه لري؟**

د آلمان حکومت هیله مند دی چې دغه اقدام، اداری مصارف راکم کړي. له دغه کارته محدوده استفاده هم په دې خاطر منل شوې، تر څو د دې ډاډ حاصل شي چې د کارتونو خاوندان د هغو له پیسو څخه د خپل ځان له پاره استفاده کوي او پیسې مبدا هېواد ته نه استوي او یا بې انساني قاچاقچیانو ته په پولی شکل نه انتقالوي. د آلمان حکومت همدارنګه تمه لري چې په دې کار سره به آلمان د مهاجرو د یو ښه مقصد ځای په توګه نور لږ جذابیت ولري.

**د تادیې کارتونه باید له کوم ځایه ترلاسه شي؟**

مخکې د آلمان په څو سیمو، لکه د تورنګین ایالت په ګرایتس او ایشفلد کې د دغې طرحې نمونه یې پروژې پیل شوي دي. د تادیې کارټ په هنوفر کې هم له بوې مودې راهیسې موجود دی او له فبروري میاشت راهیسې په هامبورګ کې هم د لاسرسي وړ دی. بایرن ایالت په مارچ میاشت کې په څلورو سیمو، فورستن فلدبروک، ګونتس بروک، تبراوشتاین او شتراوبینګ کې د تادیې کارتونو نمونه یې مرحلې پیل کړي دي.

دغه کارتونه په متفاوتو شکلونو ډیزاین شوي چې تر اوسه یې متفاوتي پایلي هم درلودلي دي. دولتي اداري او ښستونو یې له اجرا څخه راضي دي، خو بشري سازمانونو پرې نیوکې کړې او دا چې دې سره مهاجر له محدودیتونو سره مخ کیږي، ناخوښه دي.

**ایالتونه څه وخت دغه کارتونه ویشي؟**

اوسمهال د آلمان ۱۴ فدرالي ایالتونو په دې هکله پر یو ګډ تدارکاتي طرزالعمل توافق کړی. په پام کې ده چې د کارتونو ویش په اوړي کې پیل شي. مکلنبورګ- فورپومرن او بایرن ایالتونه په پام کې لري په دې تړاو خپله لار تعقیب کړي.

**د تادیې نوو کارتونو باندې نیوکې**

د چارو ځینې کارپوهان مهاجرو ته د نغدو پیسو پر ځای د تادیې کارټ پر سیستم نیوکه کوي. دوی وایي په دې کار سره په مغازو کې مشخصه کیږي چې څوک مهاجر دی او دا یو ډول «تبعیض» دی. د هغوی په عقیده، دغه طرزالعمل همدارنګه پر افرادو د بې باوریتوب ښکارندویي کوي چې د ترلاسه شوو پیسو په مصرف کې خپل مسئولیتونه درست نه ادا کوي.

یو شمېر بیا پر دې هم شک کوي، چې دغه کارتونه دې آلمان ته د مهاجرو د داخلېدو مانع وګرځي. د ځینو منتقدینو په خبره، ارزونو ښوولې ده چې ټولنیزې مالي مزایاوې د مهاجرت کولو له پاره یو ټاکونکی جذاب عامل نه دی.

په نهایت کې په پام کې ده د تادیې کارټ د مهاجرو د مالي مرستو له پاره په اړوندو قوانینو کې درج شي، خو تصمیم نیول یې د فدرالي ایالتونو کار دی چې آیا هغه معرفي کړي او که نه او همدارنګه د استفادې بڼه یې څه ډول وي.